# Albuquerque Public Schools

## د زده کونکي د کار بیاتولید ته د والدین اجازه

په البوکورک عامه ښوونځیو کې پیښیدونکي ډیری پروګرامونو، فعالیتونو او برنامو کې خلک لیوالتیا لري. ډیری وختونه مدني، تعلیمي، زده کونکي او نوري ډلې زموږ د زده کونکو او پروګرامونو په اړه پوهه ترلاسه کولو سره لیوالتیا لري.

علاوه لدې، د ښوونیز کال په اوږدو کې، ستاسې ماشوم ممکن بیلابیل تولیداتو یا کار کې ګډون وکړي او/یا یې تخلیق کړي، پشمول د محدودیت پرته هنر، ادبیات، ویډیو ثبت، غږ ثبت، عکسونه او/یا د کمپیوټر پروګرامونه، دلته لدې وروسته د "زده کونکي کار" په نوم یادیږي. د دې فورمې په لاسلیک کولو سره، تاسې د ښوونځي ولسوالی ته اجازه ورکوئ چې ستاسې د ماشوم د "زده کونکي کار" په بیلابیل لارو خپور کړي، پشمول د محدودیت پرته خپرونو، ټولګو، ننداریتونونو او څرګندتیاو، او نورو رسنیزو تولیداتو په لړ کې.

دا هم د درک وړ ده چې یوځل د "زده کونکي کار"خلکو ته خپور شي، د ښوونځي ولسوالی نشي کولی هغه څه چې خلکو ته خپور شوي کنټرول کړي چې څنګه وکارول شي یا د نورو لخوا وړاندې شي. د دې عامه خپراوي په لاسلیک کولو سره، تاسې پدې توګه د البوکورک عامه ښوونځیو د ښوونې بورډ، د دې غړي، کارمندان، اجنټان او استازي (دلته لدې وروسته د "خپرونکو" په نوم یادیږي) د هرډول او ټولو ادعاو څخه آزادوئ چې تاسې یې ممکن د خپرونکو پروړاندې د ښوونځي ولسوالی د "زده کونکي کار" خلکو ته خپرولو یا د خپرولو اجازه ورکولو له امله ولرئ لکه څنګه چې دې فورمه کې شرح شوي، او د هرډول او ټول مسؤلیت څخه یې آزادوئ کوم چې ممکن د "زده کونکي کار" خلکو ته خپرولو یا د "زده کونکي انځور/کار" خلکو ته خپرولو اجازه ورکولو څخه راپیدا کیږي، لکه څنګه چې دې فورمه کې شرح شوي.

که چیرې تاسې کله هم وغواړئ د دې فورمې په لړ کې ورکړل شوی جواز لغو کړئ، تاسې کولی شئ هغه ښوونځی په *لیکلي توګه* خبر کړئ کوم ته چې زده کونکی ځي، چې تاسې دا جواز لغو کوئ.

## د والدین جواز

ما/موږ پورتني معلومات لوستلي او وربانديې پوهیږو. زه/موږ پدې توګه د ښوونځي ولسوالی ته اجازه ورکوو ستاسې د ماشوم د "زده کونکي کار" په بیلابیل لارو خپور کړي، پشمول د محدودیت پرته د خپرونو، ټولګو، ننداریتونونو او څرګندتیاو، او نورو رسنیزو تولیداتو. زه زما د ماشوم هنري کار د ټولو ګټو نه تیریږم په شمول د پیسو.

ښوونځی:__________________________________ د زده کونکي آي.ډي:____________

د زده کونکي نوم (مهرباني وکړئ ولیکئ):__________________________________

____________________ ____________________

د والدین/سرپرست لاسلیک نیټه

______________________________

د والدین/سرپرست نوم (مهرباني وکړئ ولیکئ)

کله چې تاسې دا د جواز فورمه ولوستله او لاسلیک کړه، نو مهرباني وکړئ د خپل ماشوم ښوونځي ته یې بیرته وسپارئ. دا فورمه په ښوونځي کې ساتل کیږي.